# د ګل لرونکو نباتاتو جوړښت

## ريښه

ريښه دوه عمده او اساسي دندې سرته رسوي: ريښه په ځمکه کې نبات ټينګ ساتي. ريښه د نبات لپاره اوبه او په اوبو کې منحل منرالونه برابروي. سره له دې ريښه جذبي غړی دی. اکثرا نباتات نېغې ريښې او لړې فرعي ريښې لري. د ګازرې ريښی يو ښه مثال دی. په نورو د واښو ډولونو په شمول نباتاتو کې، خپرې ريښې د لنډ مودې وروسته مړه کيږي او بيا د نبات له ببخ څخه وده کوي، زياتې خپرې او په عين جسامت ريښې لري چې مونږ ورته خپرې ريښې وايو.

## تنه يا ساقه


يو دساقې وظيفه دا ده چې زايلم اوبه او په اوبو کې منحل مواد له ريښو څخه پاڼو ته لېږدوي. دا انتقال د مړه شوې حجراتو لخوا سرته رسېږي. ساقه هم د ريښې حجراتو ته عضوی مواد ليږدوی. دا انتقال د ژونديو حجراتو لخوا سرته رسېږي. ساقه نبات نېغ او ټينګ ساتي. پاڼو د ساقو په اوږدو کې يا د ساقو د ورستيو برخو له پاسه ترتيب موندلی وي. د ساقې له پاسه د پاڼو ګلونو ترتيب او تنظيم له پاڼو او ګلونو سره مرسته کوي او وروسته ګلان چې د ساقې له پاسه دي،په ګردې خپرونه کې مرسته کوي. دا مهم دي ځکه چې پاڼې رڼا ته اړتيا لري ، ګلونه حشرې يا باد ته اړتيا لري ميوې ممکن د خپريدو لپاره مرغانويا باد ته اړتيا ولري. ساقې زياتره په مستقيم ډول هوا ته وده کوي، چې پدې توګه دوه دندې لري: نيغ ساتل او انتقال.

## پاڼه

پاڼه د ضيايي ترکيب وظيفه په غاړه لري. دا په دې معني ده چې د ډير رڼا اخيستلو لپاره پاڼې بايد ډېرې غټې اوهوارې وي. مګر غټې پاڼې هم يو زيان لري ځکه چې دا ډول پاڼې دبخار له لارې ډيرى اوبه له لاسه ورکوي. هغه نباتات چې وچکالۍ سره سازګاری نه لري: دوی نشي کولی غټې او هوارې پاڼې ولري ، مګر دوي بايد د ساسج په توګه لوله شي ترڅو چې د تبخير سطحه د اوبو ضايعات راټيټ شي.

## ګل

ګل يو له ګل لرونکو نباتاتونجنسی غړو څخه شميرل کيږي. او له دې کبله ګل جنسي حجرې توليدوي ، چې د تکثر لپاره يې اختصاص موندلی دی.يو بشپړ ګل په لاندې برخو مشتمل دی:




*1د ګل اناتومی.Foto:Lumbrikus.no*

په لاندې برخه  د ګل بنسټ لیدل کېږي. د ګل بنسټ د ګل نورو برخوچې پاڼې لري د نیغ سالتو لپاره دنده لري. او بله یې پرسېدلی جوړښت دی چې د ګل پاڼې، د تذکیر او تآنیث آلې پرې واقع دي.بیا لاندې یا په منځنۍ برخه کاسبرګ او ګل پاڼې د ګل جسمي یا مرستندویه پاڼې دي. کاسه پاڼې یا کاسبرګ معمول شین رنګ لري، د ګل د غونچې یا د ګل د پاسنۍ برخې ساتنه کوي. بیا 1-2 داڼې د ګل باک ګرده شیندنې سره او په پای کې تخمدان /تخمدانونه شتونلري. کاسه پاڼې یا کاسبرګ معمولا شین یا نصواري رنګ لري. د دوی دنده دنسل تولید ارګانونو ساتنه ده ، په ځانګړي توګه د جواني مرحله کې.

ګلپاڼې د ګل د کاسې له پاسه ځای لري زیاتره ګل پاڼې زېړه راکښونکی رنګ لري. حشرات ځانته جلبوي چې په دې ترتیب د ګردې خپروني لامل کېږي. زیاتره نباتات د نکتار غدې لري چې د ګل پاڼو په قاعده کې واقع وي. غدې خوږه مایع چې خوږ بوی لري،ترشح کوي او د حشراتو په جلبولو کې مرسته کوي، ترڅو ګردې خپروني  ته چټکتیا ورکړي. د ګل پاڼو مجموعه د ګل د جام په نامه یادېږي.  میله څو باک لرونکې وي. باک د ګردې داڼې مکروسپورتولیدوي. هر باک د یوې میلې او د سپورونو له کڅوړې څخه جوړ شوی وي. په انتر کې د پولین ګرین په نامه د ګردې داڼې جوړېږي.د تآنیث آله دننۍ حلقه ده چې پړسېدلې برخه یا تخمدان ګردنه چې د پاېې یا میلې په بڼه وي او بله برخه یې سټګما ده چې د ګردنې په سر کې واقع ده او سرېښناکه ماده لري. تخمدان د تخمو ساتونکې کوټه ده، ښځینه جنسي حجره (ښځینه ګامیت) یې په دننه کې ووده کوي چې له هرې تخمې څخه یوه دانه تشکیلېږي، د تخمدان د بڼې د تغییر، پخېدلو او رسېدلو څخه مېوه ووده کوي یعنې پوښ شوي تخمدان ته مېوه وایي.

 په ګل کې دتخمدانونو شمیر توپیر لري. په پورتنۍ برخه کې موږ کلاله موندلائ شو ، ورپسې  یو نری برخه  سټایل موقعیت لری. موږ لاندې برخې ته د میوې غوټۍیا تخمدان وایو. تخمدان د تخمو ساتونکې کوټه ده، ښځینه جنسي حجره ښځینه ګامیت یې په دننه کې وده کوي. کله چې تخمه په تخم یا داڼې بدلېږي، تخمدان کیدای شي بو یا څو داڼې مختلف  ښځینه جنسي حجره جوړ کړي.

## Kilder:

Blomsterplantenes bygning. Hentet fra:

Oppdag naturen, biologi for lærere, grunnskolelærerutdanning. Per Ivar Kvammen, Sigmund Lie, Gunnar Christian Nyhus, Trond Vidar Vedum, Torbjørn Ødegaard.

Foto:Lumbrikus.no